چهارشنبه، 16 صفر، ۱۴۴۶هـ　　　　۲۰۲۴/۰۸/21م　　　　ګڼه: ح.ت.افغ ۱۴۴۶/6

مطبوعاتي اعلاميه

**افغانستان ته د ملګرو ملتونو د ځانګړي راپورتر پر راتګ بندېز د ستایلو دی؛ خو د «رأس الکفر» د نفوذ جرړې باید وایستل شي**

د افغانستان د حکومت ویاند له دویچه‌وله سره په مرکه کې اعلان کړه چې د ملګرو ملتونو د بشر حقونو ځانګړی راپورتر ریچرډ بېنېټ افغانستان ته له راتګه منع شوی. نوموړي ټینګار وکړ چې «بېنېټ د افغانستان پر وړاندې د پروپاګند لپاره مامور شوی و او داسي څوک نه دی چې پر خبرو یې باور وشي.»

د حزب التحریر – ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر د دغي پرېکړې هرکلی کوي او هیله لري چې دا ډول پرېکړې تعمیم وعمومي، لا پراخې او لا هر اړخیزې شي. ریچرډ بېنېټ د لویو دولتونو او بنسټونو د سیاستونو پلی کوونکی دی، خو په حقیقت کې امریکا او ملګري ملتونه «د کفر امامان» دي او د سیاسي اسلام د ځپلو، د کفري عقایدو دودولو او د مسلمانانو د منحرفولو اصلي عوامل ګڼل کېږي. نو د افغانستان حکومت باید د دغو کسانو پر هدف ګرځولو سربېره، د فساد، جنایت او کفر رېښې هم له منځه یوسي.

په داسې حال کې چې ریچرډ بېنېټ د ملګرو ملتونو مامور دی؛ خو له بده مرغه د دغه سازمان سیاسي استازولي (یوناما) لا هم په افغانستان کې فعاله ده. یوناما د غربي ارزښتونو او بشر حقونو په دودولو او د مسلمانانو په منحرفولو کې فعاله ونډه لري؛ په خپلو راپورونو کې په ښکاره پر اسلام برید کوي او د اسلام احکام «ظالمانه» بولي. د یوناما یوه دنده په افغانستان کې د بشر حقونو دودول دي، په داسي حال کې چې د بشر حقونه غیر شرعي مفهوم دی چې کفري ارزښتونه رانغاړي او د لویو قدرتونو لخوا د نفوذ او ځپلو د وسیلې په توګه کارول کېږي. په اوسني وخت کې د بشر د حقونو ادعا کوونکي د بشر د تاریخ تر ټولو ستر جنایتکاران دي.

نن مسلمانان د خلافت په نشت کې د غربي سیاسي نظم او بنسټونو په لومه کې ګیر دي. غربي بنسټونه په څو اړخیز ډول عمل کوي او د یوه فرد په محدودولو یې مخه نه شي نیول کېدی. غربي قدرتونه د «ګواښ او تطمیع» سیاست په کارولو هڅه کوي چې په افغانستان کې خپل نفوذ پراخ کړي او مجاهدین د اسلام له پلي کولو منحرف کړي. د بشر حقونو د څار سازمان د ښځو برخې مرستیالې، هیډر بار خبرداری ورکړی چې پر ریچرډ بېنېټ بندیز د کار پای نه دی او دوی به له نورو لارو خپل فعالیت ته دوام ورکړي. هغې په یو ډول مدني بنسټونو ته ـ چې له غرب سره ارزښتي، سیاسي او استخباراتي اړیکه لري ـ اشاره وکړه.

نو د افغانستان حکومت باید د دغو کسانو پر محدودولو سربېره، په اساسي ډول د غربي بنسټونو، نا دولتي سازمانونو (NGOs)، غربي پروسو او دغه راز د استعمار د اقتصادي او سیاسي نفوذ جرړې وباسي. دا چاره یوازې هغه وخت شوني ده چې دویم راشده خلافت دولت تاسیس شي او د نوي نړیوال نظم په حاکمولو سره اسلامي امت د هغو دولتونو او سازمانونو له څو اړخیزې محاصرې خلاص کړي چې «رأس الکفر» بلل کېږي.

**وَإِن نَّكَثُوا أَيْمَانَهُم مِّن بَعْدِ عَهْدِهِمْ وَطَعَنُوا فِي دِينِكُمْ فَقَاتِلُوا أَئِمَّةَ الْكُفْرِ ۙ إِنَّهُمْ لَا أَيْمَانَ لَهُمْ لَعَلَّهُمْ يَنتَهُونَ** [التوبه، ۱۲]

**ژباړه:** *«او که دوی تر ژمنې وروسته خپلې لوړې ماتې کړې او ستاسې پر دین یې بد وویل (نو تاسو هم) د کفر له مخکښانو سره وجنګېږئ؛ ځکه دوی پر ژمنو نه درېږي، ښایي (د توري په زور له ژمنې ماتولو او کفر څخه) لاس واخلي.»*

**د حزب التحرير – ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر**